# داوطلبۍ ته بلنه
# داخلي پرانيستي داوطلبي

**پروژه: د افغانستان بانک دمرکزی دفتر ، ښاری څانګي اونمايندګيو لپاره ۸۴ قلمه قرطاسيي چمتو او تدارک کول پروسه**

**داوطلبۍ ته د بلني شمېره: DAB/1401/NCB/G01**

۱. د افغانستان بانک رياست په پام کې لري څو د ۱۴۰۱ کال لپاره د ځانګړو شويو وجوهو يوه برخه د پورته يادې شوې پروژې لپاره د **DAB/1401/NCB/G01** داخلي پرانيستي داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمريت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرايطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د يادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرايطو سره سم خپل آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده { **يو کال** } ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانيستي پربنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې يادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شويو په شرايطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانيستي ده.

۵. په شرايطو برابر ټول ليوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ويب پاڼې ([www.dab.gov.af](http://www.dab.gov.af)) څخه د داوطلبۍ اسناد ترلاسه کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د ([abdulhayee.saeed@dab.gov.af](mailto:abdulhayee.saeed@dab.gov.af)) بريښناليک او يا هغې پتې څخه چې لاندې يې يادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

**۶. آفرونه بايد لاندې پتې ته د سهار له {10:00} بجو مخکې 1401/03/08 وسپارل شي. د يادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسيدلي او الکترونيکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

۷. ټول آفرونه بايد د آفر د تضمين د لاندېني مبلغ سره يوځای وسپارل شي.

آفر تضمين: بانکي تضمين يانقدی

**۸. د آفر د تضمين مبلغ 356,862 / درې سوه او شپږ پنځوس زره اته سوه او دو شپيته افغانۍ**

د آفر د تضمين: بانکي تضمين د آفر د اعتبار له مودې څخه ۲۸ ورځې وروسته اعتبار ولري. يعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1401/03/08 څخه تر ۱۱۸ ورځو پورې يا د تمديد شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمديد شويو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د ۱۵,۲ مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

يادښت: د آفر د تضمين (بانکي تضمين) بايد په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او يا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرايط برابر داوطلب بايد لاندې شرطونه پوره کړي:

1- ۱. **د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل کاري حجم:** تجربه او تخنيکي ظرفيت: داوطلب بايد هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنيکي ظرفيت د لاندې معيارونو پوره کولو ښکارونداوی وي.

2- د تيرو پنځو کلونو په اوږدو کې د کلنی راکړې ورکړې حجم **17,843,100** اولس ميليونه او اته سوه دري څلويښت زره او سل افغانۍ.

3-داوطلبان بايد د اسنادو په چمتو کولو سره ثابته کړي چې په تيرو 10 کلونو کی د ورته قرارداد لږترلږه (يو/دوه) ترسره کولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښکاروندوی وي. يوه ورته پروژه لږ تر لږه **10,705,860** - اته ميليونه نه سوه نه اويا زره او دوه سوه اويا افغانی - يا دوه ورته پروژی لږ تر لږه 17,843,100 اولس ميليونه او اته سوه دري څلويښت زره او سل افغانۍ. په تيرو لسو کلونو کی.

د نغدي شتمنيو او يا اعتباري اسانتياوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانيستنې پورې **توليز ارزښت** (: /4,460,775 - څلور ميليونه او څلور سوه شپيته زره اوه سوه او پنځه اويا افغانۍ)

۱۰. آفر پرانيستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونکو استازو په شتون کې د آفر د تسليمۍ د وروستۍ نيټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره کيږي.

**د آفر د سپارلو پته:**

د تدارکاتو لوی امريت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، کابل، افغانستان

د اړيکو شميره: 202106692 (0) 93+

برېښناليک: ihsanullah.ihsan@dab.gov.af

ويب پاڼه: www.dab.gov.af